**افغانستان - تاجکستان – پاکستان**

**د سرحدي اوبو ورکشاپ**

**له ليرى واټن څخه دزده کړى لسم ماډيول**

## ۱۰: د اوبو قانون او د اوبو قراردادونه

- افغانستان له هيڅ يو ګاونډي سره د اوبو قرارداد نه لري، ځکه چي ټول زاړه قراردادونو له سياسيونو سره لاسليک شوي دي، چې نور موجود نه دي ( د هند برتانوي راج، د ايران پادشاه او له شوروي اتحاد سره) او همدارنګه دغه قراردادونه بايد ځاى ناستي حکومتونو ته انتقال شوي واى، چي په عمومي ډول دغه کار ونه شو.
- د افغانستان حکومت پخپله يو نوى حکومت دى، چي د اوبو پخواني قراردادونه نشته او نه هم زياته تجربه لري.
- په راتلونکي کې د اوبو نوي قراردادونه د اوبو د منابعو وده او تدابير غواړي.
- د نوي قرارداد په سر مذاکره، تعليم يافته حکومتي کارمندان او حکومتي مشاورينو ته اړه لري، چې د اوبو په برخه کې پوهه ولري.
- په عمومي ډول په اسيا کى د ټيټو سيمو تمدنونه په حاصلخيزه، د ټيټو سيمو د سيند ونو په واديګانو کي چي د لوړو يا غرنيو سيمو د اوبو له منابعو څخه لري پيل شوي دي.
- په پايله کې ويلاى شو، چي لوړو سيمو ډيره وروسته وده وکړه او تراوسه يي وده نه ده کړې او کمزوري پاتي دي.
- په عيني وخت کى هغه هيواد ونه چې د سيند د جريان په وروستى برخه کې پراته وي په عيني کيفيت او په عيني اندازه اوبه غواړي اود هر نوع تغيير مخالف دى.
- دغه ډول مفکوره به په برنيو برخو کي وده ودروي، چي د برنيو هيوادونو لپاره مناسبه نه ده.
- په بشپړ ډول په معلومات سمباله مذاکرې ته اړه ليدل کيږي. يو ځل چي د افغانستان حکومتي کارمندان پوره وروزل شي او د اوبو په باره کې پوهه حاصله کړي.

**له ليرې واټن څخه د زده کړې لسم ماديول پوښتنى (دلته کليک وکړى)**